# د باچا خان
# شجرهٔ نسب او د هغهٔ کورنۍ

احسان الله

د پښتنو باره کښې مختلف تاریخ دانان مختلفې رائې لري. بعضې وائي چې پښتانهٔ دَ اریا سره تعلق لري، بعضې مورخین وائي چې پښتانهٔ بني اسرائیل دي. د مورخینو مطابق پښتانهٔ د قېس عبدالرشید د خاندان سره تعلق لري. دغه عبدالرشید او د هغهٔ خاندان د مشهور صحابي حضرت خالد بن ولید په وېنا اسلام قبول کړو. د قېس قبیله خراسان ښار کښې اوسېده. دې قبیلې ته د اسلام دعوت ورکولو کار نبي کریم (ص) حضرت خالد بن ولید ته وسپارلو. حضرت خالد بن ولید دې قبیلې ته خط ولیکهٔ چې اسلام قبول کړي. د خط په جواب کښې تقریباً ۷۰ کسان د اسلام قبلولو دپاره مدینې منورې ته راغلل او اسلام ئې قبول کړو او د نورې قبیلې د طرف نه ئې هم د اسلام قبلولو یقین دهاني وکړه. په دغه وخت کښې پېغمبر (ص) د مکې مکرمې فتح کولو په سلسله کښې مدینې منورې نه بهر ؤ کله چې هغوي واپس راغلل نو هغوي ډېر خوشحاله شو چې د افغانانو دغې قبیلې بغیر د جنګ و جدل نه اسلام قبول کړے دے. هغوي دغه کسانو له اسلامي نومونه کېښودل. دغې کسانو کښې د یو تن نوم قېس ؤ. هغهٔ له پېغمبر(ص) د عبدالرشید نوم کېښودو، دغې قېس له حضرت خالد بن ولید خپله لُور چې نوم ئې ساره ؤ، په نکاح ورکړه. قېس ډېر بهادر ؤ ځکه نبي کریم(ص) دهٔ له د "بتان" خطاب ورکړو کوم چې وروستو د "پښتون" شکل اختیار کړو.

## قېس عبدالرشید

قېس عبدالرشید ته د پښتون قوم بنیاد اېښودونکے وئیلے شي. دَ قېس د ساره نه درې زامن وو چې نومونه ئې دا وو. 1. سړبن 2.غورغشت 3. بېټن

1. سړبن: سړبن ته د سړبنو پښتنو باني وئیلے شي. د دهٔ دوه ځامن وو چې نومونه ئې دا وو: شرخبون خرشبون

شرخبون: د شرخبون شپږ ځامن وو چې نومونه ئې په دې ډول دي:

اُرمړ، بړیچ، ترین، میانه، بابړ، شیراني

خرشبون: د خرشبون درې ځامن وو چې نومونه ئې کاسي، زمند او کند وو.

کاسي: د کاسي هم درې ځامن وو چې نومونه ئې شنواري، کیتران او کاسي وو.

زمند: زمند د پښتنو دَ محمدزو د اهم ښاخ باني دے د کوم سره چې باچا خان تعلق لري. د زمند پینځهٔ ځامن وو چې نومونه ئې دا سې دي:

(1) محمد (2) توخي (3) کتاني (4) ناکي (5) خویشګي.

دا پنځهٔ د خپلو ښاخونو بانيان دي.

کند: دَ کند دوه ځامن وو دَ يو نوم غوره يا غوري او د بل نوم شېخا يا شېخي وو. کشر شېخا د پښتنو د مشهور ښاخ يوسفزئي باني دے.

محمد: دَ زمند مشر ځوے دے او دَ مشهور ښاخ محمدزئي باني دے. د محمد درې ځامن او يوه لُور وه چې نوم ئې ممو ؤ. دَ محمد بچي په دغه وخت په هغه علاقه آباد شو کومې ته چې اوس چارسده وائي. دغه ټولو کښې اتهٔ بچي ډېر اهم دي او دغه اتهٔ واړه چې کومو کلو کښې آباد شو هغې ته ئې دَ 'هشتنگر' نوم ورکړو. دَ هشتنگر ټکے د دوؤ لفظونو مجموعه ده. لفظ 'هشت' د فارسۍ ژبې لفظ دے او د دې مطلب 'اتهٔ' دے لفظ 'نگر' دَ هندۍ ژبې ټکے دے او د دې مطلب دے کلي نو مجموعي طور باندې د هشتنگر مطلب شو اتهٔ کلي. وخت تېرېدو سره سره هشتنگر نه هشتنغر شو.

د محمد درې ځا من وو چې نومونه ئې دا دي.

الياس: الياس دَ الياس زئي ښاخ باني دے، د الياس څلور ځامن وو. زکريا، سېف الدين (سېفو)، حسېن او پړانگ.

شهو: شهو دَ شهوزئي ښاخ باني دے د شهو اتهٔ ځامن وو چې نومونه ئې بارک شاه، تورنگ (تورنگ زئي) عمر، سلېمان، يعقوب، غورا او آکا دي.

بارک شاه: بارک شاه دَ محمد زو د اهمې څانگې بادشاه زئي جد اعلي دے. باچا خان هم دَ دې ښاخ سره تعلق لري. دَ با رک شاه دوه ځا من وو:

رځړ: رځړ دَ پښتنو اهمې څانگې رځړ مشر دے.

اُتمان: اتمان دَ پښتنو د اهمې څانگې اُتمانزئي نيکهٔ دے د هغهٔ درې ځامن وو:

فريد خان: دَ فريد خېل ښاخ نيکهٔ دے.

تېموس خان: دَ ترناؤ ښاخ باني دے.

شريف خان: د دهٔ يو ځوے ؤ چې نوم ئې خواص خان دے. دې د خواصي خېلو نيکهٔ دے. د دهٔ درې ځامن وو چې نومونه ئې دا دي.

سلېمان خان: دَ سلېمان خېل څانگې مشر دے.

شموخان: دَ شموزئي ښاخ باني دے.

سلمان خان: د سلمان خان دوه ځا من وو چې نومونه ئې دا دي:

زين خان، عبيدالله خان. او د عبېدالله خان دوه ځامن وو:

جان خان او سېف الله خان.

سېف الله خان دَ باچا خان نيکهٔ ؤ. سېف الله خان دوه ودونه کړي وو. دَ وړومبۍ ښځې نه ئې درې ځامن او يوه لُور وه دَ دوېمې ښځې نه ئې دوه ځامن او يوه لُور وه.

## سېف الله خان

د وړومبۍ ښځې نه ئې درې ځامن او يوه لُور وه چې نومونه ئې دا دي.

- بهرام خان
- شاه پسند خان
- سمند خان
- لُور چې په حاجي غلام حېدر خان باندې وادهٔ وه. (د نامې معلومات ئې حاصل نهٔ شو)

دَ سېف الله خان د دوېمې ښځې نه ئې دوه ځامن او يوه لُور وه چې نومونه ئې دا دي.

- یار محمد خان
- غلام حېدر خان
- لُور چې په سرګند خان وادۀ وه.

## بهرام خان

بهـرام خـان دَ سـېف الله خـان مشـر ځـوے ؤ دَ بهرام خان دوه ځامن او دوه لُوڼه وې چې نومونه ئې په دې ډول دي:

شمع بي بي
خان صیب
قربشه بي بي
عبدالغفار خان

شمع بي بي: شمع بي بي دَ بهرام خان مشره لُور وه او دَ رځړو برهان خان باندې وادۀ وه. دَ شمع بي بي دوه ځامن او يـوه لُور وه. دَ يـو ځوي نوم ئې فدا محمد خـان او دَ بـل شـاد محمد خـان ؤ. لـور ئې دَ مـردان حـاجي ملک پـه ځوي چې بهـرام نومېدو، باندې وادۀ وه.

خان صېب: دَ خان صېب د نوم باره کښې ډېرې خبرې مشهورې دي څوک وائي چې د دۀ صحيح نوم عبدالجبار ؤ بعضې وائي چې نه د دۀ صحيح نوم هم خان صېب دے، کومه چې صحيح خبره ده ځکه چې د دې نوم تصديق د ډاکټر صېب نمسي چې دَ پېښور يونيورسټۍ پرووسټ پـاتې شـوے ؤ او نـوم ئـې اجمل خان دے. د دَې نه علاوه د دۀ پـه پاسپورټ کښـې هـم خـان صـېب ليکلي شـوي دي کـوم چې دا ثـابتوي چې د دۀ اصـل نـوم خـان صـېب دے. د دې خبرې تائيد د عبدالعلي خان ځوے ذوالفقار علي خان هم کوي.

ډاکټر خان صېب دوه ودونه کړي وو. وړومبۍ ښـځه ئې د چارسدې وه او دوېم وادۀ ئې دَ ډاکټرۍ کولو پـه دوران کښې پـه لندن کښې يوې مېمې سره کړے ؤ.

دَ ډاکټر خان صېب وړومبۍ ښځه د چارسدې د امباډېر وه چې نوم ئې خورشيده ؤ او دَ پـلار نوم ئـې نصر الله خان ؤ. دَ خورشيدې نه دا ډاکټر صېب درې ځـامن او يـوه لُـور وه چې پـه وړوکـوالي کښـې مـړه شوې وه. دَ ځامنو نومونه ئې دا دي.

سعدالله خان: دَ ډاکټر خان صېب مشر ځـوے ؤ چې د انګلېنډ نه ئې دَ انجنئيرۍ سبق وئيلے ؤ او پـه پي ډبليو ډي ايبټ آباد کښې XEN ؤ. د هغۀ دوه ځامن شميم سېف الله او انور سعدالله وو.

شـميم سـېف الله : شـميم صـېف الله درې ودونـه کړي وو. وړومبے ئې د غني خان لُور شاندانې سره، دوېم ئې يوې انګرېزې چې نـوم ئـې Veraty ؤ او د درېم تېر پلار ئې پښتون او مور ئې د هانګ کانګ وه. خو لاولد وۀ.

انور سعدالله : دۀ د جنرل ميا حياء الدين د لُور سره وادۀ کړے ؤ. د هغې نه د انور دوه ځامن ډاکتر شريف خان او زېن خان شوي وو او يوه لُور ئې هم وه.

عبيد الله خان: دَ ډاکټر دوېم ځـوے ؤ او درې ځامن ئې لرل چې نومونه ئې داسې دي. بدرالدجٰي منير جان عارف او ارشد.

هدايت الله خان: دا دَ ډاکټر صـېب درېـم ځوے ؤ. درې ځامن ئې وو مصطفٰي کمال چې آرمي

افسر ؤ، اجمل خان چې دَ پېښور یونیورسټي پرووسټ ؤ او شهریار خان.

په انګلېنډ کښې د ډاکټرۍ د تعلیم حاصلولو په دوران کښې ډاکټر خان صېب یوې سکاټش ښځې چې نوم ئې "Mary" ؤ سره دوېم وادۀ وکړو. دَ دغې ښځې نه دَ ډاکټر صېب یو ځوے چې نوم ئې جان خان ؤ او یوه لُور چې نوم ئې مریم ؤ. جان خان چارسده کښې اوسېدو او د ټائیفائیډ له وجې مړ شوے ؤ.

شمع بي بي: دا دَ بهرام خان دوېمه لُور وه او دَ خپل مېرنه ترۀ ځوي ثناء الله خان ته وادۀ شوې وه چې د یار محمد خان ځوے ؤ. یار محمد خان دَ بهرام خان مېرنے ورور ؤ. دَ ثناءالله خان نه دَ قریشې بي بي یو ځوے ؤ چې نوم ئې سلطان محمد خان ؤ. دَ سلطان محمد خان دوه ځامن او یوه لُور وه.

خان عبدالغفار خان (باچا خان): د بهرام خان د ټولو نه کشر ځوے ؤ چې عام طور سره به ورته خلقو باچا خان وئیلو او د مشهور خدائي خدمتګار تحریک باني ؤ. باچا خان دوه ودونه کړي وو.

وړومبے وادۀ ئې دَ رځړو دَ کلي د یار محمد خان د لُور سره شوے ؤ چې نوم ئې مهرقنده ؤ. د مهرقندې نه دَ باچا خان دوه ځامن عبدالغني خان او عبدالولي خان وو.

عبدالغني خان: د باچا خان مشر ځوے ؤ چې د پښتو ژبې مشهور شاعر، فلسفي او مجسمه ساز ؤ. د غني خان یوې پارسي جینۍ چې نوم ئې روشن ؤ سره په دسمبر **1939** کښې وادۀ شوے ؤ کومه چې د دکن رستم جنګ کشره لُور وه. د دې نه د غني خان دوه لوڼه شاندانه او زرین بي بي او یو ځوے فریدون وو. د فریدون خان وادۀ د نګین بي بي چې د اتمانزو د پیر محمد خان لُور وه سره شوے ؤ. د هغې نه ئې دوه ځامن دي بهرام خان او مشال خان او یوه لُور شاني بي بي ده.

بهرام خان: د فریدون خان ځوے دے او د مندني د کمال خان د لور سره ئې وادۀ شوے دے. د هغې نه د هغۀ یو ځوے دے چې غني خان نامه ئې ده.

مشال خان: د دۀ وادۀ د اسفندیار ولي خان د لُور ګلمکۍ سره شوے دے. د هغې نه د مشال خان یو ځوے دے.

شاني بي بي: د تاکال ارباب وهاب ته وادۀ شوې ده. درې بچي لري.

عبدالولي خان: د خان عبدالولي خان وادۀ په کال **1944** کښې تاجو بي بي سره شوے ؤ. د هغې نه ئې دوه لوڼه نسرین په **18** مارچ **1945** کښې او پروین بي بي په فروري **1947** کښې پېدا شوې ده او اسفندیار خان په ځوارلسم فرورۍ کال **1949** کښې پېدا شوے دے.

نسرین بي بي: د ولي خان دا مشره لُور د امیر محمد خان ځوي اعظم خان هوتي باندې وادۀ ده. د هغۀ نه ئې دوه ځامن امیر حېدر خان هوتي او امیر غزن خان او یوه لُور شمع بي بي ده.

امیر حېدر خان هوتي (د پښتونخوا وزیر اعلی): د سریر خان د مردان د لُور او د مشهور خدائي خدمتګار مهردل خان نمسۍ سره وادۀ شوے دے. د امیر حېدر خان دوه ځامن اکبر او محمد او یوه لُور پلوشه ده.

امیر غزن خان (د باچا خان ټرسټ ډائرېکټر): د دۀ وادۀ د سائره بي بي سره شوے دے چې د درګۍ

د حېدر علي خان لُور ده. د غزن خان دوه لونه حيا او لېلي دي.

شمع بي بي : شمع بي بي د رځړو په سلېمان خان وادۀ ده. دوه ځامن مصطفٰي او عيسٰي لري.

پروين : د ولي خان کشره لُور په جاوېد خټک وادۀ ده. دوه ځامن ئې خوشحال خان او جمال خان دي.

اسفنديار خان (د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر): د دوي وادۀ د رځړو د دوست محمد د لُور مزيده بي بي سره شوے دے. دوه لونه درخانۍ او ګل مکۍ ئې دي او يو ځوے ئې ايمل خان دے.

د ولي خان دوېم وادۀ : ولي خان په نومبر 1954 کښې د امير محمد خان د درېمې لُور نسيم بي بي سره وادۀ شوے ؤ. د هغې نه ئې يوه لُور (ډاکټر) ګلالۍ او يو ځوئے سنګين ولي خان ؤ.

ګلالۍ : په جولائي 1956 کښې پېدا شوې ده او د بنو په ډاکټر جهانزېب وادۀ ده. درې ځامن لري جالوان، جانان او جبران.

سنګين ولي خان : اووم جون 1959 کښې پېدا شوے ؤ او د انور خان د لُور عاليه بي بي سره ئې وادۀ شوے ؤ. دوه لونه مهرقند او مريم او يو ځوے لونګين خان لري.

د باچا خان دوېم وادۀ: باچا خان دوېم وادۀ په 1919 کښې د سلطان محمد خان د لُور نامباتې سره شوے ؤ. د هغې نه ئې يوه لُور مهرتاجه په 25 مۍ 1921 کښې پېدا شوې وه او يو ځوے عبدالعلي خان چې په 20 اګست 1922 کښې شوے ؤ.

مهرتاجه : د دې وادۀ د مشهور خدائي خدمتګار يحيٰي جان خان سره شوے ؤ. يو ځوے سليم جان خان او درې لونه ناهيد، روهيده او شاهده لري. د سليم جان خان درې ځامن دي چنګېز خان، شېرباز خان او زېرک خان دي. ناهيده په رحيم خان وادۀ ده يو ځوے او يوه لُور ئې دي. د روهيدې دوه ځامن دي. سمير او فهد.

عبدالعلي خان : د باچا خان کشر ځوے چې د قاضي عطاء الله خان د لُور محموده سره ئې وادۀ شوے ؤ. د هغې نه ئې دوه ځامن ذوالفقار علي خان او ناصر علي خان او درې لونه شهناز علي خان، درشهوار او رخسانه علي خان دي.

شهناز علي خان : په يو پنجابي چودري اشتياق انور وادۀ ده. يوه لور سارا او دوه ځامن ئې جهانګير اشتياق او عالمګير اشتياق دي.

درشهوار : د صوابۍ په يو ډاکټر عبدالوحيد صاحبزاده باندې وادۀ ده. او د هغۀ نه ئې درې لونه پلوشه، شهلا، لېلا او يو ځوے اسد احمد صاحبزاده دے.

پلوشه : د سليم جان خان په ځوي زيرک خان وادۀ ده. يو ځوئے ئې دے.

شهلا بي بي : د ډاکټر خان صېب په نمسي ډاکټر شريف خان وادۀ ده.

لېلا بي پي : په پېښور کښې وادۀ ده.

رخسانه علي خان: د ډاکټر خان صېب په نمسي ډاکټر شهريار وادۀ ده. څلور لونۀ مهتاب چې په علي وادۀ او زرمينه په فاروق وادۀ ده او لالينه او رابعه وادۀ نۀ دي.

ذوالفقار علي خان : دۀ د اتمانزو د محمد نادر خان د لُور سعيده بي بي سره وادۀ کړے دے. درې لونه او يو ځوے لري.

ناصر علي خان : د پړانګو د امان الله خان د لُور ثروت بي بي سره ئې واۀ شوے دے. دوه لونړۀ او دوه ځامن لري.

## حوالې :


1. د ارکایوز لائبریرۍ نه ریکارډ
2. Faith is Battle Abdul Ghaffar Khan By D.G Tendulkar
3. زما ژوند او جدوجهد عبدالغفار خان
4. Ghaffar Khan non-Violent Badshah of Pathan By Rajmohan Gandhi
5. پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې بهادر شاه ظفر.
6. تاریخ مرصع د افضل خان ختټک
7. Dr.Khan Sahib A profile By Seema Begum
8. ذوالفقار علي خان سره انټرویو
9. امیر غزن خان سره انټرویو.